## (E) برخه:ښاري ځنګلداري

### دوهم لوست یا درس: د ښاري ځنګلدارۍ تعریف

1. **د زده کونکو د زده کړې موخې:**زده کونکي به ددی لوست په پایله یا نتیجه د لاندې موخو سره اشنا شي:
2. د ښاري ځنګلدارۍ تشخیص.
3. د یوه ښاري ځنګل او ښاري ونو د ګټو یا فایدو تشریح او توضیح کول.
4. د ښاري ځنګلدارۍ د مدیریت د مختلفو جنبو توضیح او تشریح کول.

**د لوست د تدریس کولو لپاره وړاندېز شوی وخت:** ۲ ساعته(ګړی)

**وړاندیزي شوي منابع یا زیرمي:** لاندې منابع یا زیرمي کیدلی شي چي ددي لوست په تدریس کي ګټور وي:

- د پاور پواینټ په پروګرام کي ددي درسي یا لوستي پلان وړاندیز هم آماده شوی دی
- http://en.wikipedia.org/wiki/Urban_forestry
- http://www.fs.fed.us/ucf/

**د سامانونو، وسایلو، لوازمو او آسانتیاوو فهرست یا لړلیک**

د لیکلو لپاره سپینه یا خالی ورقه یا صفحه

د پاورپواینټ د پروګرام په خاطر پراجکتور(غټ ښودونکی)

د پاور پواینټ پروګرام سلایدونه یا صفحي

شفاف یا روښانه سلایدونه

**اصطلاح ګاني:**په دې لوست یا درس کي به لاندې اصطلاح ګاني تر استعمال لاندې ونیول شي( ذکر شوي اصطلاح ګاني د پاورپواینټ په دوهمه شمیره سلاید کي په بولډ او ایټالیک شکل سره هم وړاندیز شوي دي):

اربوری کلچر

اربوریست

تصدیق شوي اربوریستونه

د سرک د غاړې د ونې لوایح(احکام یا حمکونه)

د ونې لوایح (احکام)

د ونې د حفاظت یا ساتنې لوایح(احکام)

ښاري ځنګلداري

د منظرې یا د لیدنې د ځای لوایح(احکام)

**په زړه پوري تګلاره**: له په زړه پوري تلګلار نه استفاده وکړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست اخستلو

لپاره آماده شي. ښوونکي اکثره تګلاري د خاصو ټولګیو او زده کونکو د شرایطو لپاره تهیه او ترتیب کوي.
لاندې تګلاره کیدلی شي چي دیوې ښې ممکنه تګلاري په نامه سره یاده کړل شي:

د ښوونځی او یا هم د اجتماع څخه یوه ونه انتخاب یا وټاکئ چي ټول زده کونکي له هغې سره په بشپړ ډول سره اشنایي یا پیژندګلو ولري.له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ ترڅو چې یو پولي ارزښت په ونه باندې کیږدي. په غوښتل یا داوطلبانه ډول سره د هغوي نظرونه وړاندی کړئ.له دي وروسته یو بحث په لاره واچوئ چي زده کونکي د یوې ونې د ازرښتنو د تشخیص په برخه کي یو له بل سره بحث وکړي. او ددي ارزښتونو څخه یو لست د تختي په مخ یا هم د کمپیوټر او پراجکتور پواسطه ترتیب کړئ ترڅو چي ټول یي ولیدلی شي.

## د محتویاتو خلاصه یا لنډیز او د لوست ستراتیژي ګاني

**لومړی موخه یا هدف:** ښاري ځنګلداري تشریح او روښانه کړئ.

**(د پاورپواینټ ۳ شمیره سلاید)**

**۱ –** ښاري ځنګلداري د ځنګلداری (ځنګلاتو) څخه یو تخصصي یا ځآنګړی بخش یا برخه ده.

**الف)**ښاري ځنګلونه د ښارونو له نفوس څخه په ډکو ساحو کي، ورو ښارونو کي یي موقیعت پیداکړی دی. هغه ساحې چي ډیر خلک یا نفوس ولري نو هغوي د ونو د مدیریت په برخه کي په ځانګړی ډول سره مشکلات یا ستونزی منځته راوړي چي په غالب ګمان سره په سنتي ځنګلداری کي نه مشاهده کیږي یا نه تر سترګو کیږي. د هوا ککړتیا، د نموي یا رشد کونکي فضا محدودیت، پیچل شوي خاوري او داسې نور عوامل د ونو مدریریت(تنظیم) له مشکل یا ستونزو سره مخامخ کوي.

**(د پاورپواینټ ٤ شمیره سلاید)**

**ب)** ښاري ځنګلداري د خلکو جدې پاملرنې ته اړتیا او ضرورت لري.د ونو کښت او ځارنه کول له اربوري کلچر څخه عبارت ده. او هغه متخصیصین یا پوهان چي د ونو له کښت څخه نظارت یا لیدنه کوي د اربوریستانو په نوم سره یادیږي..

**(د پاورپواینټ ٥ شمیره سلاید)**

**ث)** د اعتبار یا اعتماد تصدیق کول یو اربوریست تقویه کوي. ولایتي او ملي موسسي د تصدیق کولو لپاره تعلیمات او ازمایښتونه برابروي. تصدیق شوي اربوریستان د شرایط په لرلو سره په ځنګل کي د کار او ساتنې لپاره د مطالعاتو او ازمایښتونو له لاري تاید کیږي. هغوي معمولاً د متخصیصینو په ډول سره په ساحو کي لکه تغذیه او حاصل ورکوونه، د ونې انتخاب یا ټاکنه او تشخیص کول، د ونې تاسیس او منځته راوړل،د ونې مصونیت او خښتل، د خطرونو یا ننګونو ارزیابي یا ازمایښت کول، د ونې بیولوژي، د ښاخونو پري کول، د ناروغیو تشخیص او درملنه کول، د اوبو او خاوري په منځ کي روابط یا اړیکي، د ځنګله

ایکولوژي، ونې ته شکل ورکول او د هغې حفاظت یا ساتنه کول او د ونې د ښایستوالی پوري مربوط یا تړلي مسایل، د پاملرنې وړ دي.
د ښاري ځنګلدارۍ په برخه کي زده کونکي د ونو د استعمال او په کار وړلو د ساحو په برخه کي فکر کولو ته تشویق کړئ او له هغوي څخه یو لست جوړ کړئ چي د دوهمې موخې له سرته رسونې څخه وروسته بیاځلکې ارزیابي کړل شي.
**دوهمه موخه یا هدف :** د ښاري ځنګلدارۍ فواید یا ګټي او ښاري ونې توضیح او روښانه کړئ.

**(د پاورپواینټ ٦ شمیره سلاید)**
**II-** د ښاري ځنګلاتو فواید یا ګټي له باکیفیته ژوندونو سره، محیط او اقتصاد سره کیدلی شي چي مرتبط وي یا ورسره اړیکه ولري.
**الف)** ښاري سالم یا روغ ځنګلات د ژوندانه کیفیت ته لوړوالی یا ارتقا ورکوي. ونې هوا پاکوي او له تنفسي هوا څخه ککړتیا او ګرد او غبار لري کوي. چي دا موضوع د تنفس د عملي سره په رابطي سره د تنفس له عمل سره چي هره ورځ په حدود د ۲۳۰۰ ځلي صورت نیسي ډیر مهم او اړین دي.
**ب)** ونې د اوکسیجن په تولید کي فعاله برخه اخلي. د نیم هکتار ځمکې ونې هره ورځ د ۲۵ میلیونه نفرو یا اشخاصو لپاره په کافي اندازې سره اکسیجن تولیدوي یا تولیدولی شي.
**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاید)**
**ت)** ونې کاربن ډای اوکسایډ جذبوي. د نیم هکتار ځمکي ونې د کاربن ډای اوکساید کافي اندازه د یو کال په اوږدو کي جذبولی شي او کولی شي چي د کاربن ډای اوکساید یوه اندازه له چلیدونکی موټر څخه په فاصله د ٤١٨٤٠ کیلو مترو سره چي تولیدیږي، جبران کړي.

**(د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاید)**
**ث)** ونې د یوه دیوال(حصار) په ډول سره عمل کوي. ونې په دي باندې قادري دي چي صوتي یا د غږ ککړتیا کمه کړي. د غالمغال اندازه د کاري ساحو سره نژدې ځایونو کي کموي او د ساحو د اوسیدونکو د ژوندانه کیفیت ته قوت او لوړوالی بخښي. ونې د بدو نما لرونکو ساحو لپاره د دیوال په شکل کار کوي لکه د ښار په صنعتي ځایونو یا ساحو کي. ونې د باد ماتونکو په ډول سره عمل کوي چي په خاص یا ځانګړی ډول سره د ژمي په میاشتو کي ګټوري وي.
**(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاید)**
**ج)** ونې د اوړي په  ګرمو ورځو کي یخونکی تاثیرات لري. د یوي غټې ونې لاندې د ساحې سوری کولی شي چي ۱۵ په نسبي ډول سره یخوالی نسبت د لمر د شعاع لاندې حرارت یا تودوخې د درجې په وړاندې کم ولري. چي په نتیجه یا پایله کي یخونکي مصارف د ۱۰-۱۵ فیصدو پوري  کموالی کوي.
**د)** یوه غټه پاڼي غورځونکی ونه د خپلو ونو پواسطه د ماورای بنفش(UV) شعاعو د وړانګو مانع کیدلی شي. د ونو پواسطه د لمر د شعاع د ممنوعیت فکتور د ۱۰-۲۰ فیصدو پوري آټکل شوی دی.

**د پاورپواینټ ۱۰ شمیره سلاید په افغانستان کي د يوي ښې ځنګلدارۍ مثال يا بيلګه په ګوته کوي، دا ونې د ساختمانونو يا ودانيو او همدارنګه د سالم محيط يا چاپيريال په اطرافو کي سوېرې ددې لپاره برابروي چي ترڅو خلکو ته په سرکونو کي د تلو لپاره زمينه برابره شي.**

(**د پاورپواینټ ۱۱ شمیره سلاید)**

**و)** وني ښايسته دي او ښکلا منځته راوړي. په زيات شمير سره وني د رنګارنګ ګلونو لرونکي دي، زړه راښکونکي ښاخونه او پاڼي، په زړه پورې پوستکی او په زړه پورې د منی د رنګ لرونکي دي. هغه کورونه چي بالغي وني او ښايسته منظري ولري د ۱۰-۱۵ پوري نسبت هغه کورونو ته يې ارزښت زيات دی چي وني او منظري په کي شتون ونه لري.

**( د پاور پواینټ ۱۲ شمیره سلاید هغه کور چي منظره لري او هغه کور چي په غير له منظري څخه وي په ګوته کوي)**

(**د پاورپواینټ ۱۳ شمیره سلاید)**

**م)** وني په انسانانو باندې په رواني ډول سره مثبت تاثيرات لري اګر چي د هغې اندازه کول يو مشکل او ستونزمن کار دی ولي تحقيقاتو يا څیړنو دا ښودلې ده چي ښاري ځنګلات د دماغو(مغزو) د صحت لپاره ګټور دي.

**ن)** ښاري ځنګلات د يوه سالم او روغ محيط يا چاپيريال په منځته راوړو کي مرسته او کومک کوي. هغوي توفانونه، د اوبو سطحي جريان او د خاوري تخريب ته کموالی ورکوي. وني د حيواناتو يا ځارويو د اړتيا يا ضرورت وړ اکسيجن توليدولی شي او ښاري ځنګلات غذاي مواد او پناه ځايونه د وحشي حيواناتو لپاره برابروي.

**TM :E-1- د ښاري ځنګلاتو ارزښت کيدلی شي چي د نکاتو(موضوعاتو) د روښانه کولو لپاره تراستفادې لاندې ونيول شي. د ښاري ځنګلاتو اهميت يا ارزښت د يو بحث په توګه تعقيبوو. زده کونکي دي خپل يادداشتونه د مباحثي په اساس پراخه کړي. زده کونکي دي يادداشتونو ته پاملرنه وکړئ چي په لومړۍ موخه يا هدف کي جوړ شوي وو. کوم مقاصد يا موخي ددي ونو پواسطه جوړيږي؟ آيا کوم ځآيونه شتون لري چي ښاري ځنګلات په کي په کار وړل شوي دي ولي د هغوي په يادداشتونو کي درج شوي نه دي.**

**دريمه موخه يا هدف:** د ښاري ځنګلدارۍ د مديريت د مختلفو جنبو تشريح او توضيح کول.

(**د پاورپواینټ ١٤ شمیره سلاید)**

III- د ښاري ځنګلاتو د مديريت لپاره بي شميره جنبي يا تګلاري شتون لري.

**الف)** ښاري ځنګلات د مختلفو افکارو په کار وړلو سره تر مدیریت لاندې نیول کیږي. د ښاري ونو تنیظیم په اوبه لوړیدو سره، وحشي حیواناتو باندې، د کبانو په پناه ځآیونو، تفریحي یا ساعت تیرۍ په فعالیتونو، د چاپیریال په ښکلا یا ښایستوالی، ونو په عمومي مدیریت او لرګینو محصولاتو باندې تاثیر لري.

**(د پاورپواینټ ۱۵ شمیره سلاید)**

د ښاري ځنګل د مدیریت پروګرام د بي شمیره موخو یا اهدافو لرونکی دی. یو له دې موخو یا هدفونو څخه شامل دی په، ونې د نوعي له نقطي نظره، جسامت، عمر او ارزښت له مخې څخه وي. د موجوده یا شتونو لرونکو ونو حفظ او ساتنه مهم دي. په مراقبت یا څارنه کي د حشراتو مدیریت، آفاتو مدیریت او ناروغیو مدیریت شامل دي. ښاري ځنګلونه په دایمي ډول سره تغیر منونکي دي. نو په دي بنا د مړو  ونو له منځه وړل، همدارنګه هغه ونې چې پریوتي وي او کړي شوي وي د هغوي له منځه وړل د حفاظتي ملاحظاتو په نسبت سره ضروري دي. په عین شکل سره د ونو تاسیس او منځته راوړل د ښاري ځنګلاتو د حفظ او ساتنې په منظور هم یو ضروري یا اړین امر دی. همدارنګه د ښاري ځنګلاتو د مدیریت پروګرام عامه تعلیماتو ته ضرورت لري ترڅو چي د هغې پواسطه د ونو رول په محیط باندې هم توصیه کړل شي. د عمومي اهدافو یا موخو د لاسته راوړلو لپاره یو شانته پاملرنه او میلان د ځنګل ټولو پروګرامونو ته شتون لري.

**(د پاورپواینټ ۱٦ شمیره سلاید)**

1. د ونو د پوښښ د اعظمي حد منځته راوړل او ساتنه.
2. د ونو ساتل له یو سالم او صحي وضیعت سره د زراعتي مناسبو عملیاتو له لاري.
3. په یو متعادل او مناسب حد کي د نوعو او همدارنګه په سنتي تنوع کي ساتنه او منځته راوړل.
4. د ونو د منابعو یا زیرمو ساتنه او هغې ته ترقي ورکول.
5. د سرک د غاړي د ونو تاسیست ساتنه او انتخاب یا ټاکنه، تردي پوري چي ګټې یې اعظمي شوي وي ولي خطرات یا ننګوني، ازار، خسارات یا زیانونه د څمکي او حفاظتي مصارف یې لږ تر لږه کم شي.
6. د ونې د مدیریت متمرکز کول دیوه تجربه لرونکی شخص تر رهنمایي او لار ښوونې لاندې.
7. د ښاري موثري او اقتصادي ځنګلدارۍ د انکشاف مدیریت.
8. د جامعي یا ټولنې هڅونه په دي توګه چي د ښاري ځنګلدارۍ د پروګرامونو څخه په خپلو محلونو کي او همدارنګه د خصوصي خاوندانو تشویق او هڅول د مناسب مدیریت او شخصي مالکیت په هکله.
9. د اسانتیاوو برابرول ددي لپاره چي د ښاري اوسیدونکو په منځ کي د ونو پوري مربوطه جګړي حل او فصل شي .

**(د پاورپواینټ ۱۷ شمیره سلاید)**

ښاروالۍ په غالب ډول سره د ونو پوري تړلي يا مربوط لوايح او حکمونه منځته راوړي ترڅو چي صحي موخو ته د لاس رسيدنې لپاره يو مناسب او قوي مديريت د اجتماعي ځنګل دارۍ په برخه کي منځته راشي.
د ونو احکام يا لوايح د مديريت د معياري فعاليتونو په برخه کي جواز برابروي.
دونو احکام يا لوايح کيدلی شي چي په دري بنسټيزو يا اساسي کټګوريو يا صنفونو باندې تقسيم شي.
**(د پاورپواينټ ۱۸ شميره سلايد)**

1. د سرک د غاړي ونو احکام يا لوايح په اصل کي عبارت دي له ونئيز پوښښ څخه او د ونو له منځه وړلو د يوي عامي لاري په اوږدو کي. هغوي په غالب ډول سره د ونو سره په رابطه کي د خصوصي قوانينو لرونکي دي چي د عامه سفرونو خطرات يا ننګوني تر پاملرنې لاندې نيسي، دي. د ونو د کرنې ضروريات يا اړتياوي لکه د ونو کرل د پارکنګ په ساحو کي په عمومي صورت سره مطرح شوي دي.

**(د پاورپواينټ ۱۹ شميره سلايد)**

2. دونې حفاظتي يا ساتونکی قوانين شامل دي د محلي ونو په ساتنه او د ونو د مهمې تارخچې په ساتنه او حفاظت سره په دي احکامو يا لوايحو کي معمولاً جواز ته د حفاظتي ونو د منځه وړلو په خاطر او همدارنګه په ځني حالاتو کي د ښاخ پري کولو په خاطر اړتيا يا ضرورت شتون لري.
3. د منظرې(چکرځای) احکام يا لوايح په دي احکامو کي د ونو پوري د مربوطه يا تړلو قوانينو طرحه چي منظري يا د لمر رڼا ته ديوال جوړوي شامل دي.

**** د اجتماعي يا ټولنيزي ځنګلدارۍ د مديريت په برخه کي يو بحث يا محاوره په لاره واچوئ. له زده کونکو څخه غوښتنه وکړئ چي په دي مباحثه کي برخه واخلي TM:E1-2د ښاري ځنګلدارۍ مديريت څخه د واقعي مرسته کونکی په حيث استفاده وکړي. په هغه صورت کي که چيري امکان ولري له يو ځنګل ساتونکی څخه د راتلو غوښتنه وکړئ ترڅو چي له ټولګی څخه ليدنه وکړئ او د مديريت د پروګرام موخي يا هدفونه تشريح او روښانه کړئ. له هرڅه د مخه ټول زده کونکي دي ته اماده کړي ترڅو چي د نوموړی کس يا شخص د خبرو په برخه کي سوالونه جوړ کړي. او د ونو د څرنګوالی د ارزيابي په برخه کي بحث او وينا وکړي. په هغه لواحو او احکامو باندې چي د هغوي په ساحه کي شتون لري بحث وکړئ. آيا د هغوي په منځ کي کوم ګډور شی شتون لري يا به يي ولري چي په نظر کي بايد ونيول شي؟**

**مرور۱خلاصه(لنډيز):** د لوست يا درس د نتيجې اخستنې په خاطر د زده کړي موخو يا هدفونوته له زده کونکو سره يوځای بيا کتنه وکړئ. هغه مسايل او موضوعات چي د مباحثې په ټول جريان کي مو وړاندې کړي دي، د لوست څخه نظارت کول او د زده کړي ټولي تجربي چي مو سرته رسولي دي، خلاصه يا لنډيز کړئ. اصطلاح ګانو او د اصطلاح ګانو تعريفونو ته بياکتنه وکړئ. د زده کونکو توضيحات يا څرګندوني د هري موخي يا هدف د پرنسيپونو په برخه کي په نظر کي ونيسئ. د هغوي ځوابونه په نظر

کي ونيسئ او د هغې په اساس هغه برخي مشخصي کړئ چي علاوه کيدونکی بيا کتنې ته اړتيا يا ضرورت لري .

**تطبيق :**زده کونکي به دددي توان يا قدرت ولري ترڅو چي ښاري ځنګلداري په خپله ساحه يا محل کي تشخيص کړي.

**ارزيابی:** ارزيابی بايد په لوستي موخو باندې د زده کونکو په اشنا کيدو باندې متمرکزه وي. د زده کونکو د ارزيابی لپاره مختلفي تګلاري شتون لري، د بيلګي په ډول سره په ترسره کړی شوو فعاليتونو کي د زده کونکو اجرات او يا په دي برخه کي کيدلی شي چي له نمونه ئئ ازموينې څخه استفاده وکړل شي ترڅو چي زده کونکو د موخو سره اشنا شي. په ليکلی بڼه امتحان يا ازموينه له دي سند سره يوځای وړاندې کيږي.

**نمونه ئئ امتحان يا ازموينې ته ځوابونه:**

**لومړی برخه يا قسمت: مطابقت يا اړيکه ورکول**

1. e
2. a
3. c
4. h
5. f
6. b
7. d
8. g

**دوهمه برخه يا قسمت: تکميل يا بشپړ کول**

1. تصديقيت
2. د ژوندانه، محيط يا چاپيريال او اقتصاد کيفيت.
3. ۱۸
4. غږ يا اواز، منظري او باد
5. ۱۵
6. ۱۰-۱۵ فيصد يا سلنه

7. د اوبو پورته کيدل، وحشي حيوانات، د کبانو لپاره پناه ځای، تفريحي يا د ساعت تيری لپاره فعاليتونه، ښکلا ورکول يا ښايسته کول، د ونې څخه عمومي مراقبت يا څارنه او لرګين محصولات.
8. د دماغو(مغزو) صحت
9. د سرک د غاړي ونو قوانين يا احکام
10. د ونې د ساتنې يا حفاظتي قوانين او احکام

**دريمه برخه يا قسمت: لنډ ځوابونه**

1. د ونې تغذيه او حاصل ورکول، د ونې تشخيص او انتخاب يا ټاکنه، د ونې تاسيس او منځته راوړل، مصونيت او ونې ته پورته کيدل، دونې د خطرونو يا ننګونو ارزيابي، د ونې بيولوژي، ښاخ پري کول، د ناروغيو يا امراضو تشخيص او درملنه، د اوبو او خاوري ترمنځ روابط يا اړيکي، د ځنګل ايکولوژي، ساتنه او د نې جوړول.

2.

1. وني هوا پاکوي
2. وني د اکسيجن په توليد کي فعاله برخه اخلي.
3. وني د کاربن ډای اوکسايډ په جذبولو کي فعاله برخه اخلي.
4. وني د ديوال په توګه عمل سرته رسوي.
5. وني د اوړي په ګرمو ورځو کي يخنی منځته راوړونکي تاثيراتو کي برخه اخلي.
6. وني د ماورای بنفش وړانګو په مخنيوی کی مهم رول لوبوي.
7. وني ښکلا لري او ښايسته والی منځته راوړي
8. وني په انسانانو باندې رواني مثبت تاثير لري
9. وني د يو سالم او روغ محيط يا چاپيريال په منځته راوړو کي مرسته او کومک کوي.

3.

10. د ونو د پوښښ د اعظمي حد منځته راوړل او ساتنه.
11. د ونو ساتل له يو سالم او صحي وضيعت سره د زراعتي مناسبو عملياتو له لاري.
12. په يو متعادل او مناسب حد کي د نوعو او همدارنګه په سنتي تنوع کي ساتنه او منځته راوړل.
13. د ونو د منابعو يا زيرمو ساتنه او هغې ته ترقي ورکول.
14. د سرک د غاړي د ونو تاسيست ساتنه او انتخاب يا ټاکنه، تردي پوري چي ګټي يي اعظمي شوي وي ولي خطرات يا ننګوني، ازار، خسارات يا زيانونه د ځمکي او حفاظتي مصارف يي لږ تر لږه کم شي.
15. د ونې د مديريت متمرکز کول ديوه تجربه لرونکی شخص تر رهنمايي او لار ښوونې لاندې.
16. د ښاري موثري او اقتصادي ځنګلدارۍ د انکشاف مديريت.

17. د جامعي يا ټولنې هڅونه په دې توګه چې د ښاري ځنګلدارۍ د پروګرامونو څخه په خپلو محلونو کې او همدارنګه د خصوصي خاوندانو تشويق او هڅول د مناسب مديريت او شخصي مالکيت په هکله.
18. د اسانتياوو برابرول ددې لپاره چې د ښاري اوسيدونکو په منځ کې د ونو پورې مربوطه جګړې حل او فصل شي .

**نمونه ئي امتحان(ازموينه)**

**نوم:______________**

## (E)برخه لومړی لوست یا درس: د ښاري ځنګلدارۍ تشخیص

### لومړۍ برخه یا قسمت: جوړه کول یا مشابهت ورکول.

دستورات : اصطلاح ګانو ته د ورکړ شوو ځوابونو سر ه مشابهت ورکړئ او صحیح توری د مربوطه اصطلاح په مخکې چي تعریف شوی، ولیکئ.

الف) اربوری کلچر
ب ) ار بوریست
ت ) تصدیق شوی اربوریست
ث) د سرک غاړی د ونو پوري مربوطه احکام م) ښاري ځنګلداري
ج ) د ونې پوري مربوطه یا تړلي لوایح و) له منظري پوري تړلي لوایح
د) د ونې د ساتنې پوري تړلي لوایح

-------------1. د اجتماعي یا ټولنیزي ځنګلدارۍ د مناسب او قوي مدیریت او صحي موخو یا اهدافو ته د رسیدلو لپاره لارښوونه.
-------------2.د ونو کښت کول او له هغې څخه مراقبت او څارنه سرته رسول.
-------------3. د محلي شرایطو د درلودلو تاید د مطالعاتو او ازماینښتونو له لاري د ونو د څآرنې لپاره.
-------------4.د ونو پوري د مربوطه قوانینو طرحه کول چي د منظرو د دیوال او لمر د شعاع د دیوال په منظور وي.
-------------5.بومي یا محلي ونې په پام کي نیول او د ونو د موثري تاریخچې په برکي نیول.
-------------6.متخصیصن که از کاشت درختان نظارت میکند.
-------------7. د ونو د پوښښ منځته راوړل او د هغه ونو له منځه وړل چي د یوې عامې لاري په مسیر کي شتون ولري.
-------------8 د ځنګلدارۍ څخه یو مخصوص یا ځآنګړې برخه چي د ښارونو له نفوس څخه په ډکو ناحیو کي، وړو ښارونو کي یي موقیعت نیولی دی.

### دوهمه برخه یا قسمت: تکمیل یا بشپړ کول.

دستورات : د لاندې بیانیو د ډکولو لپاره د مناسبو کلمو یا کلمې څخه استفاده وکړي.

1. ------------ د یوه اربوریست د اعتبار زیاتوالی دی.
2. له ښاري ځنګلدارۍ څخه مستفید کیدل ممکن چي له ________________ او ____________ پوري تړلي وي.
3. نیم هکتار کي موجوده ونې د ____________ نفرو لپاره کافي اکسیجن برابروي.
4. ونې د حصار یا دیوال د منځته راوړو په ډول سره ____________ او ____________ په کار وړل کیږي.
5. د هوا د حرارت یا تودوخې درجه د یوې لوی ونې لاندې کیدلی شي چي ____________ درجې په نسبتي ډول سره د هغې هوا نه یخه وي کومه چي د لمر د شعاع لاندې قرار لري.
6. هغه کورونه چي مناسبې منظري او بالغي ونې ولري نسبت هغه کورونو ته چي مناسبې منظري او بالغي ونه لري د ____________ ارزښت لرونکي وي.
7. د ښاري ونو تنظیم په ______ ______ ______ ______ ___ ___ او ____ باندې تاثیر لري.
8. تحقیقاتو یا څیړنو ښودلی ده چي ښاري ځنګلدارۍ د ____________ لپاره ګټوره ده.
9. ---------- په غالب ډول سره د شخصي ځنګلاتو په برخه کي د قوانینو لرونکی ده چي عامه مسافرتونو خطرات یا ننګوني مطرح کوي.

10. ------------ د محلي ونو د ساتنې په برکي نيسي او همدارنګه  د ونو د موثره تاريخچه په برکي نيسي.

**دريمه برخه يا قسمت: لنډ ځوابونه**

دستورات : د لاندې سوالونو يا پوښتونو د ځوابولو لپاره معلومات وړاندې يا ارايه کړئ.

1. دولس (۱۲) ساحې چي په هغې کي تصديق شوي اربوريستان تعليم کوي کوم دي؟

2. نهه(۹) نوعي د مرستې يا کومک نوعي چي ښاري ځنګلدارۍ برابروي کومي دي؟

3. د اجتماعي ځنګلدارۍ د پروګرام معمولي نهه(۹) موخي يا هدفونه کوم دي؟

## د ښاري ځنګلدارۍ ارزښت TM:E1-1

1. ونې هوا تصفيه يا پاکوي. دود، ګرد او خاوره او ککړتيا له هغې هوا څخه چې د تنفس لپاره په کار وړل کيږي، لرې کوي.
2. د نيم هکتار ونې د ۲۵ ميليونه کسانو يا اشخاصو لپاره کافي اندازه اکسيجن توليدوي.
3. ونې هغه کاربن ډای اوکسايډ چې د موټرانو او لاريو پواسطه توليديږي جذبوي.
4. ونې د يو پرې کونکی ديوال په توګه په کاري ځايونو او انسانانو د ژوندانه په محلاتو کې د غالمغال لپاره يو ديوال تشکيلوي.
5. سويرى لرونکی ونې د هوا د يخولو سبب ګرځي په هغه وخت کې چې په اوړي کې هوا ګرمه وي.
6. يوه غټه پاڼې غورځونکی ونه د خپلو پاڼو پواسطه د لمر د شعاع مانع ګرځي. د ونو ساتونکي يا حفاظتي فکتورونه(SPF) د ۱۰-۲۰ پورې آټکل شوي دي.
7. د ونو زيات شمير د رنګارنګ ګلونو لرونکي دي او همدارنګه، په زړه پورې ښاخونه او پاڼې لري، زړه راښکونکی پوستکی لرى او په منى کې په زړه پورى رنګونه لري.
8. ونې په انسانانو ډير مثبت رواني تاثير لري.

9. ونې طوفانونه او د اوبو سطحې ته کموالی ورکوي ولې د وحشي حيواناتو د اوسيدو لپاره يو مناسب محل يا ځای برابروي.

## د ښاري ځنګلداری د مديريت د پروګرام موخې يا هدفونه TM:E1-1

1. د ونې شتون يا موجوديت د نوعې، عمر، جسامت او د هغې د اهميت له نظره.
2. د موجوده يا شتون لرونکو ونو ساتنه او څارنه کول.
3. د حشراتو، آفاتونو او ناروغيو نظارت او تنظيم سرته رسول.
4. د خفاظتي ملاحظات په خاطر د مړو او لويدلو ونو له منځه وړل.
5. د ښاري ځنګلداری د ساتنې په منظور د ونو کرل يا کښت کول.
6. په محيط يا چاپيريال باندې د ونو د نقش د پوهې په منظور عامه تعليمات